# د توليدي ښارونو په موخه د کليو او ښارونو پيوستون

## د ښار او کلي د همغږۍ په برخه کې د فضا او توليد په پام کې نيول

په دغه توضيحي سند کې به د افغانستان په پنځو مهمو ښاري سيمو کې له حاصلخېزه کرنيزو ځمکو څخه د ګټې اخيستنې په برخه کې هغه معلومات وړاندې کېږی چې د ښاري او کليوالي سيمو تر منځ د اقتصادي اړيکو د پياوړتيا لامل ګرځي. د ښار په څنډو کې د ښاري فضا اوسنۍ پراختيا او نه کنټرول؛ له ځمکو څخه د کرنيزې ګټې اخسيتنې او غذايي مصؤنيت پايدارۍ اړونده چارې څېړي. د ښار او کلي د پيوستون په سيمه کې د اقتصادي کرنيزو کړيو (حلقو) او بنسټيزو پانګونو تر منځ د پياوړتيا رامنځته کول د لوړې کچې را ټيټولو، کاري فرصتونو رامنځته کولو، کورنيو او نړيوالو بازارونو ته د لاس رسي د کچې پياوړتيا او اقتصادي خوځښت لامل ګرځي.

۹ مه شمېره توضيحي سند، ۲ مه لړۍ، -۲۰۱۶ ز کال

د افغانستان ښاري سيمې د ښاري مرکزونو، د ښارونو څنډو او کليو تر منځ د همکاريو او يوه او بل د بشپړولو د پياوړتيا په برخه کې مهم رول لوبوي. د افغانستان پنځه مهمې ښاري سيمې چې له هرات، کابل، کندهار، جلال آباد او مزار شريف څخه عبارت دي؛ له يوه پلوه د ټول ښاري نفوس ۶۹ سلنه تشکيلوي او له بله پلوه د هغوی اړونده ښاري سيمې تر اوبو لاندې پراخه کرنيزو او حاصلخيزه ځمکو لرونکې دي. همدارنګه د افغانستان خلک د غذايي مصؤنيت په برخه کې د پام وړ نشتوالي سره مخ دي – له هرو ۴ افغانانو څخه يې [1] په نسبي توګه د غذايي مصؤنيت له نشتوالي سره مخ دی. کرنيز توليدات مخ پر ودې تقاضا (غوښتنې) ته ځواب نه شي ويلی. د بېلګې په توګه، افغانستان معمولاً هر کال ۱۵۰۰۰۰۰ ټنه غلې دانې د غنمو او اوړو په بڼه واردوي.[2] نو په دې بنسټ، د ښاريتوب او کليو او ښارونو د پيوستون اړونده کرنيزو سيمو تر منځ د توازن تنظيم يو ستونزمن مګر د پاليسۍ په کچه اړين ګام ګڼل کېږي.

### د ښار او کلي د پيوستون د اوسني خوځښت درک

ښاريتوب د افغانستان فضايي، ټولنيزه او اقتصادي بڼه د ښاروالیو له حدودو ور هاخوا د اغېزو د لمنې پراخېدو سره سم په بېړه بدلوي. دغه خوځښت د ښاري سيمې د ننه د خلکو، توکو، سرچينو، پانګو او خدمتونو د حرکت او انتقال په برخه کې ليدل کېږي. کرنيزې ځمکې د دغه ښاري سيمو د ټولې سيمې يوه مهمه برخه جوړوي چې په هغې کې د کورنيو او بهرنيو لګښتونو له پاره غلې دانې، مېوې او ونې کرل کېږي ( ۱ چوکاټ و ګورئ: سيمې ته په کتو سره د افغانستان کرنيز توليدات).


### په ښاري سيمو کې د ښاري نا کنټرول شوې فضا پراختيا

د پنځو ښاروالیو فضايي پراختيا چې په خپل سر ډېر او په بيړه سره په کې نفوس وده کړې چې د ښار په څنډو او کليوالي سيمو کې په ټيټ تراکم سره پراختيا مومي. دغه چاره مستقيمې او ناوړه اغېزې ښندي، لکه څرنګه چې حاصلخېزې کرنيزې ځمکې په ساختماني سيمو اوښتې دي چې د کرنيزو توليداتو د زيانمنتيا لامل ګرځي. د بېلګې په توګه، د کابل ښار د شمالي اړخ سيمه د افغانستان د انګورو له لويو توليدوونکو څخه ګڼل کېږي چې هم د هېواد د ننه مصرفېږي او هم د جلال آباد له لارې پاکستان ته صادرېږي. په ښاري سيمو کې د کرنيزو ځمکو استملاک کولی شي چې معيشتي فرصتونه ټکنې، طبيعي چاپېريال تهديد او همدارنګه طبيعي شبکې ګډې وډې کړي.

### اقليمي محدوديتونه او د زېربناوو نشتوالی

افغانستان وچ او نيمه وچ اقليم لري او د باران کمه کچه تر لاسه کوي. په مرکزي او شمال ختيځو غرونو کې زياته واوره ورېږي چې د اوبو مهمه سرچينه ګڼل کېږي. د دې په وړاندې د هېواد په شمالي، لويديځو او جنوبي سيمو کې د باران کلنۍ کچه له ۳۰۰ ملي متره څخه ټيټه ده او د وچکالۍ په وړاندې زيانمنېدونکې ده. د اوبو لګونې زېربنا د با ثباته او پايېدونکې کرنې له پاره اړينه ده. نو په دې سره ويلی شو چې د اوبو لګونې د مناسبو زېربناوو نشتوالی دا مانا لري چې افغانستان تر ډېره بريده د کرنيزو توليداتو په برخه کې په باران پورې تړلی دی. دغه چاره په تېرو څو لسيزو کې د داخلي ناخالصه توليد په برخه کې د کرنې د سکتور ونډې له مخې څرګنده ده. د اوبو لګونې زېربنا په ښاري سيمو کې نسبتآ ښه ده. د بېلګې په توګه، د مزار شريف په ښاري

### لومړی چوکاټ: سيمې ته په کتو سره د افغانستان کرنيز محصولات




د افغانستان متفاوت اقليمي، توپوګرافي او د اراضي شرايط د ونو د محصولاتو لکه، انګور، زردالو، چهارمغز، پسته، انار، درملو او غلو دانو د روزنې له پاره د يوه نا مناسب چاپېريال په رامنځته کېدلو کې مهم رول لوبوي. لکه څرنګه چې د هېواد د ټولې ځمکې له دلې څخه يوازې ۱۲ سلنه د کښت وړ يعنې د دايمي کرنې له پاره د کرنيزې ځمکې په توګه ياده شوې ده. د حاصلخېزه ځمکو مديريت او تنظيم د غذايي مصؤنيت په برخه کې مهم او رغنده رول لوبوي. ښاري سيمې، سوداګريز او ترانزيټي مرکزونه او له پولو څخه د اوښتلو ستراتيژيکې نقطې د کرنيزو محصولاتو له پاره د داخلي بازارونو په رامنځته کولو او نړيوالو بازارونو ته د دوی د ارتباط ورکولو په برخه کې مهم رول لوبوي.

[1]Food and Agriculture Organization. http://www.fao.org/news/story/en/item/328056/icode/. Accessed on April 19, 2016.
[2]http://www.fews.net/central-asia/afghanistan/food-security-outlook-update/august-2015
[7]UN-Habitat (2016). Harnessing City Economies. Discussion Paper #4. UN-Habitat: Kabul
[8]According to USAID report Connecting to opportunity published in 2013, over 20 million mobile subscription exists in Afghanistan
[9]Zhang (2009). Competitiveness and Growth in Brazilian Cities: Local Policies and Actions for Innovation
[10]Habitat III Issue Paper # 10: Urban-Rural Linkages. May 2015.

سیمه کې ۷۲ سلنه ځمکه (کرنیزه ځمکه) رانغاړي او د کابل ښار په سیمه کې د ټولې ځمکې له ۴۰ سلنه څخه د کرنې په موخه ګټه اخیستل کېږي.[3] په دې حال سره، جګړې د کرنیزو تولیداتو د مطلوبې کچې په موخه د اقتصادي او تکنالوژیکي زېربنا په برخه کې د پانګې اچونې په لاره کې ناوړه اغېزه کړې. د بېلګې په توګه، د کرنیزو محصولاتو د ساتنې په موخه د یخچال د اسانتیاوو نشتوالي؛ نړیوالو بازارانو ته د ممیزو د صادرولو کچه ډېره زیاته محدوده کړې.

## د ښار او کلي تر منځ شلېدلي اقتصادي کړۍ او بازار ته لاس رسی

کرنیز محصولات او د دوی حیاتي دوران د کلي او ښار د پیوستون په برخه کې د ګڼو مرستو او یو تر بله د اړیکو مهمه نښه ګڼل کېږي. مشتریانو ته د کرنیزو محصولاتو رسېدل؛ د تولید د اړونده اړخونو، بهیرونو او اړیکو د یوې پېچلې شبکې، پروسس او د غذایي توکو د بازار موندنې له لاې تېرېږي. د ناکافي عرضې بهیرونه او کړۍ (حلقې) د نړۍ په کچه د ټولو تولید شوو غذایي توکو تقریباً د درېیمې برخې د نقصان او ضایع کېدو سره پای ته رسېږي چې د دې لویه برخه په ښاري او د ښار په څنډو کې تر سره کېږي.[4] په افغانستان کې د فعاله اقتصادي او د عرضې کړیو پرمختیا نه ده موندلې او هېڅ شتون نه لري. کمزوري ارتباطات یوه مهمه ستونزه ګڼل کېږي چې ښاري او سوداګریزو مرکزونو ته د بازارا د لاس رسي مخنیوی کوي. د افغانستان د کرنې په برخه کې د سیالۍ د محدودولو زیاتره لاملونه د کمزورې بسته بندۍ، د دلالانو زیاتوالي، ضعیفې څارنې او کنټرول او د سوداګرۍ له نا مناسب چاپېریال څخه عبارت دي.

## په ښاري سیمو کې د ښاري او کرنیزو تولیداتو همغږي کول

د یادولو ده چې په ۱۹۶۰ میلادي لسیزه کې افغانستان د وچې مېوې په سکټور کې د نړیوال بازار ۶۰ سلنه ونډه خپله کړې وه. نو په دې بنسټ، د تحول لسیزې ته د هېواد په ننوتلو سره؛ په ښاري او د ښار په څنډو کې د ځمکو ساتنې او ګټې اخیستنې ستراتیژیک مدیریت د ټولیزې اقتصادي ودې او غذایي مصؤنیت په برخه کې د اهمیت وړ ګڼل کېږي. د کرنې په سکټور کې د ښاري او کلیوالي یو تر بله پایداره اړیکو رامنځته کولو په برخه کې ګڼ شمېره لاملونه شتون لري چې له هغوی څخه د افغانستان اړونده درېیو ستراتیژیو په اړه په لاندې پاراګرافونو کې خبرې کېږي.

## د دندو ادغام

اقتصادي کړۍ د افقي او عمودي ادغام د ترویج په مټ پیاوړې شي. اوسني مطالعات د بزګرانو د فعاله ټولنو نشتون ښيي. د بېلګې په توګه، لکه څنګه چې د ممیزو زیاتره تولیدوونکي د کمو ځمکو لرونکي بزګران دي چې دغه کار د زیات تولید سپما، د چنو وهلو قدرت او همدارنګه د زده کړې انتقال محدود کړی. برسېره پر دې، د کمو ځمکو لرونکي دغه بزګران محدوده پانګه او ظرفیت لري چې د زیاتو اغېزمنو یعنې عمودي ادغام لرونکو تصدیو د رامنځته کېدو په مخ کې خنډ ګرزي. دولت باید د بزګرانو او سوداګرو ټولنو ظرفیت ته وده ورکړي او که دا ډول ټولنې شتون و نه لري نو باید نوموړي وهڅول شي چې رامنځته یې کړي. یادې ټولنې کولی شي د ظرفیتونو په برخه کې شته تشې ډکې کړي او پورونو ته د لاس رسي په واسطه د خرڅلاو ښه قیمت تر لاسه کولو په برخه کې د تولید کوونکو د چنو ګډ توان لوړ، د سپما او تولید د کیفیت د ښه والي په برخه کې زده کړې او ټکنالوژۍ تر لاسه، د وارداتو او صادراتو د جواز په اړه معلومات خپاره او نورې ګټې چې د نوښتونو لامل ګېږي تر لاسه کړي. مرکزي دولت باید د ممیزو او نورو محصولاتو د آسانه صادرولو په برخه کې د دولتونو همکاریو ته پراختیا ورکړي.

## سیمه ییز ادغام

د افغانستان ښاري سیمې په زیاته کچه د لویو ښارونو مرکزونو ته نږدې زیاتې حاصل خېزې ځمکې رانغاړي چې په دې توګه هغوی له پاره ټرانسپورټي زېربناوو او لویو بازارونو ته غوره لاس رسی چمتو کېږي. د پام وړ ګڼ شمېر خلک هره ورځ د خرڅلاو او مستهلکینو مهمو بازارونو ته د لاس رسي په موخه کابل ته سفر کوي. د بېلګې په توګه، د کابل ښار مرکز ته د ورځنیو ترافیکو کچه به بېړه سره مخ په لوړېدو ده او له ۲۰۰۹ کال څخه دوه چنده شوې ده.[6] (د کابل ښار په لور د ورځني ترافیک په اړه دې ۶ توضیحي سند وکتل شي). د افغانستان د ښارونو سوداګریزه سیمه د امریکې متحده ایالتونو د فعاله اقتصادي ښارونو په پرتله کمه ده او د ۳ سلنه په کچه ده،[7] او د دې څرګندونه کوي چې په ښار کې سوداګریزې سیمې کافي نه دي. باید د کرنیزو حاصلخېزو ځمکو پر تبدیل، د اړینو زېربناوو ټاکلو، ارتباطاتو او بازار ته د لاس رسي باندې د کنټرول په موخه؛ هر اړخیز ښاري او سیمه ییز پلانونه رامنځته شي. ثانوي ښارګوټي او ستراتیژیکې ښاروالۍ لکه

## درېیم چوکاټ: د اقتصادي کړۍ د تحلیل درک

تولید ← د حاصلاتو را ټولول او ټرانسپورټ ← لومړنی پروسس او ساتنه ← ثانوي پروسس ← توزیع، بسته بندي او انتقال ← عمده پلورنځی او پرچون بازارونه


د اقتصادي کړۍ تحلیل یوه تحلیلي وسیله ده چې د یوه مناسب سوداګریز چاپېریال په رامنځته کولو کې له یوه هېواد یا ښار سره مرسته کوي. دغه وسیله د دې په تحلیل او تجزیه سره چې د فعالیتونو په هره برخه کې د اومو موادو له پړاو څخه نیولې بیا تر مشتري پورې رسولو کې څه اندازه ارزښت اضافه کېږي، موږ ته دا شونتیا په لاس راکوي چې د خپلې کمزورۍ هغه ټکي و پېژنو چې په صنایعو کې مو د سیالۍ مخه نیسي.
ځینې پېژندل شوي محدودیتونه کېدای شي چې په یوه ځانګړې صنعت پورې اړه ولري او ځینې کېدای شي په ټولو پورې اړه ولري. د مناسبې اقتصادي کړۍ تحلیل د صنایعو تر کړۍ پورې محدود نه پاتې کېږي او هغه د پالیسۍ چاپېریال او تنظیم کوونکي رانغاړي چې د شرکتونو کړنې مقیدوي. په دې ترتیب، یاد تحلیل د ودې او سیالۍ په موخه د ستراتیژیو د طرحې په برخه کې په خصوصي او عامه سکټورونو کې د پام وړ اغېزې ښندي.
د اقتصادي کړۍ د تحلیل بهیر کولی شو په درېیو ساده پړاوونو کې وړاندې کړو: ۱) له کمي او کیفي پلوه د اومو موادو څخه بیا تر وروستیو ګټه اخیستونکو پورې د یوه صنعت د اقتصادي کړۍ د نقشې ایستل[5]) د نړیوالې سیالۍ په وړاندې د شاخصونو او د ټولو هغو غوره کړنلارو ټاکنه چې موږ ته وښيي چې د اقتصادي کړۍ یا پالیسۍ تر ټولو کومه مهمه برخه د سیالۍ په وړاندې ننګونکې ده، ۳) د پوهاوي له بنسټیزو او تنظیم کوونکو لاملونو سره یو ځای کول چې د هغې په واسطه د کړنو اندازه معلومېږي، تر څو عامه او دولتي سکټور وکولی شي چې د خنډونو د منځه وړلو له پاره ستراتیژۍ طرحه او ور سره سیالي پیاوړې کړي.

[3]State of Afghan Cities. 2015. http://unhabitat.org/books/soac2015/
[4]FAO (2011a). Global Food Losses and Waste – Extent, causes and prevention, http://www.fao.org/docrep/014/mb060e/mb060e.pdf
[5]Qualitative analysis may entail listing activities and linkages among industry actors while quantitative mapping may entail productivity, cost, and added value at each segment of the chain.
[6]UN-Habitat (2016). On the Move in Kabul city Region. Discussion Paper #6, UN-Habitat: Kabul

## دویم چوکاټ: د پنځو ښاري سیمو کرنیزه ورتیا

د افغانستان پنځه ښاري سیمې د ښاري مرکزونو په توګه د کرنیزو ارزښتناکه او حاصلخېزه ځمکو په لرلو سره دوه ګونی رول لوبوي. د کابل ښار سیمه د قره باغ، میربچه کوټ او شکردرې ولسوالۍ رانغاړي چې د هېواد د انګورو د تاکونو د مهمو برخو څخه ګڼل کېږي. د مزار شریف، هرات او کندهار ښاري سیمې له ۶۴څخه تر ۷۳ سلنه کرنیزې ځمکې دي چې ښاری مرکزونو ته نږدی د لوړ کرنیز کښت ښکارندويي کوي. په دې حال سره، چې د اوبو منظم شتون، سرکونوارتباطاتو او د شبکو تراکم د هغوی یوه ګډه ستونزه ګڼل کېږی چې مجموع کې د کرنیزو لاسته راوړنو، کورنیو او نړیوالو بازارونو ته یې د دوی د ارتباطاتو تامینول له ننګونې سره مخ کړي دي. باید هغه پالیسۍ تر لاس لاندې ونیول شي چې د اقتصادي زېربنا د پیاوړتیا لامل ګرځی لکه، د ډاډ وړ ارتباطاتو، اوبو لګونې او برېښنا تامین کوونکې. برسېره پر دې ښاري سیمو ته نږدې ځینې ستراتیژیکې ښاروالۍ لکه په مزار شریف کې بلخ، په کندهار کې ارغنداب او په جلال آباد کې مهترلام یادولی شو د کرنیزو محصولاتو د پروسس، ساتنې او لوژستیک مرکزونو د تاسیساتو پلان او جوړولو سره کولی شو نسبت لویو ښارونو ته د تولید د مقیاس او کم لګښت له مخې په اغېزمنه توګه ترې ګټه واخلو.

د کرنیزو ځمکو جلا تقسیم بندي لکه – ‹خړوبه شوي ځمکې›، للمي، او میوه لرونکي› ونو شتون به د هر یو لاندی پنځو زونونو لپاره تر می ۲۰۱۶ پوری وړاندې شي.




د نقشه مشخصات

نړیوال سرحد | زراعتی ساحی | ښاره ساحی | آبی ساحی | آباد شوی ساحی | عمومی سرکونه

بلخ تـه هـم د کرنيـزو محصولاتـو د پروسـس د ځانګـړي مرکـز پـه توګـه پراختيـا ورکـړو تـر څـو هلتـه د توليـد لـه ټيـټ لګښـت څخـه ګټـه واخيسـتل شي. دغـه کار پـه لويـو ښـارونو کـې د لـوړي کرايـې لـه مخـې سـتونزمن دی. برسـېره پـر دې، د اقتصـادي پرمختـګ لـه پـاره سـتراتيژيک پـلان بايـد د ځانګـړو کلسـټرونو د اقتصـادي کـړۍ د تحليـل پـه بنسـټ رامنځتـه شي. ښـارونه کولـی شي چـې د ښـاري فضـا او اقتصـادي انکشـاف پـلان د پلانګـذارۍ د تطابـق پـه واسـطه مـخ پـر ودې نفـوس او حـدود جـذب کـړي. پـه اوږد مهـال کـې؛ ادغـام شـوې ښـاري سـيمه د بزګرانـو د عوايـدو پـه زياتېـدو او همدارنګـه د کـم غذايـي مصؤنيـت سـمون بـه د لـوړې د منځـه وړلـو پـه برخـه کـې مرسـته وکـړي.

### د سوداګريز چاپېريال او زېربناوو سمون

د اقتصـاد د مناسـبې زېربنـا شـتون د مناسـب سـوداګريز چاپېريـال لـه پـاره اړيـن دی. لانـدې ټکـي هغـه سـتراتيژۍ پـه ګوتـه کـوي چـې کېـدای شي د افغانسـتان د اقتصـادي زېربنـا د سـمون د آجنـډا يـوه برخـه شي.

### نرمه زېربنا

- بـشري سرچينـې: د کښـت د تخنيکونـو او د توليـد د قابليـت پـه برخـه کـې پوهـه کېدلـی شي چـې د زده کـړه ييـزو مرکزونـو او د افقـي ادغـام (يعنـې د ټولنـو او کوپراتيفونـو سـازماندهۍ) پـه واسـطه سـمون ومومـي.
- قوانيـن او مقـررات: د ځمکـې او د هغـو اړونـده قوانينـو ثبـت چـې د ثبـات د راتـګ لامـل ګرځـي؛ د بزګرانـو او دولـت د عوايـدو د ملاتـړ پـه برخـه کـې اړيـن دي.
- سـوداګريز چاپېريـال: د اقتصـادي پرمختـګ لـه پـاره مناسـب سـوداګريز چاپېريال رامنځتـه کولـو پـه موخـه لازمـه ده چـې د هغـو افـرادو او تصديـو ملاتـړ وشي چـې د خطرونـو قبلولـو تـه چمتـو وي (يعنـې پانګـې تـه سـم لاس رسـی).
- څېړنـه او پرمختـګ: د نوښـتونو د رامنځتـه کولـو پـه موخـه د اوسـنيو پوهنتونونو پـه همـکارۍ د څېړنـې او پرمختـګ پـه بنسـټونو کـې پانګـه اچونه

### سخته زېربنا

- اوبـه او اوبـه لګونـه: زياتـره سـيمې د اوبـو د غيـر منظـم سيسـتم څخـه ځورېږي چـې د سـمون لـه پـاره يـې ګامونـو اوچتولـو تـه اړتيـا ليـدل کېږي.
- بـازار تـه د لاس رسي پـه موخـه لارې: منطقـوي ارتباطاتـو او انتقالاتـو تـه د لاس رسي پـه موخـه د کلي او ښـار د ښـه ادغـام غـوره ښـاري پلانګـذاري
- لوژسـتيک: د ګودامونـو، يخچالونـو او د توزيـع د تاسيسـاتو جـوړول تـر څـو د خوراکـي توکـو د عرضـې د کړيـو پـه تـرڅ کـې ضايعـات ورسـتۍ ټيټـې کچـې تـه ورسـېږي.
- مخابـرات: د ګرزنـده ټلفونونـو لرونکـو د شـمېر د هـره ورځنـي زياتـوالي ملاتـړ او پرمختيـا چـې د بـازار اړونـد معلوماتـو خپرولـو لامـل ګـرزي[۸].

### سوداګريزې شبکې

- د همـکارۍ د کلسـټرونو رامنځتـه کـول: د خصـوصي او عامـه سـکټورنو سـيمه ييـز رهـبران د اقتصـادي سيسـتم د ملاتـړ پـه موخـه پـه ګـډون کـې لـه بـازار سره د بزګرانـو د اړيکـو د سـمون لـه پـاره وهڅـول شي. دغـه سـتراتيژي د ډېـرو سرچينـو لرونکـو کړنـلارو پـه ځـای د کمـو سرچينـو تـه اړو بېړنيـو ګامونـو راخرخـي.
- عمـلي اړخ تـه متمايلـې يـوې رهـبرۍ ډلـې رامنځتـه کـول: د يـوه ګډ او عملي ليدلـوري او سـتراتيژۍ رامنځتـه کولـو پـه موخـه د خرڅوونکـو، خدمتونـو د عرضـه کوونکـو، دولتـي چارواکـو، د صنعـت او پوهنتونونـو پراخـه اړونـده اړخونـه راغونـډ شي. د کلسـټر جوړونـې بهيـر پـه خپـل ذات کـې د اړونـده اړخونـو تـر منـځ اړيکـې پيـاوړې کـوي او د صنعـت او اقتصـادي کړيـو پـه برخـه کـې پـه ګوتـه شـوې تشـې بـه ډکـې کـړي[۹].

کـه چېـرې کرنـې تـه د اقتصـادي کړيـو (حلقـو) د تحليـل لـه پلـوه وکتـل شي نـو لـه افغانسـتان سره بـه مرسـته وکـړي تـر څـو لا زيـات پيـاوړي او هـر اړخيـز سـکتورونه رامنځتـه شي. د هـر اړخيـزو اقتصـادي کړيـو (حلقـو) پياوړتيـا د هغـو کړنـلارو څخـه پـه ګټـې اخيسـتنې سره لکـه د ښـاري او کليـوالي سـيمو تـر منـځ د مهمـو پلونـو پـه توګـه اغېزمنـې لارې د ښـار او کلي تـر منـځ د ښـې همغږۍ رامنځتـه کولـو لـه پـاره ضروري دي. د کرنيـزو محصولاتـو د عرضـې فعالـه کـړۍ (حلقـې) کولـی شي د ښـار او کلي تـر منـځ اړيکـې پيـاوړې کـړي او د کوچنيـو توليدوونکـو لـه پـاره فرصتونـه رامنځتـه او پـه عيـن حـال کـې د ارزښـتناکه ايکـو سيسـتمونو سـاتنه وکـړي[۱۰].

## راتلونکي ته ليکنه:

- د ځانګړو کلسټرونو له پاره د اقتصادي کړيو (حلقو) تحليل چې د پرمختيا شونتياوې د کمي او کيفي ارقامو او څېړنې په بنسټ وښيي.
- د بزګرانو او سوداګرو ټولنې له لارې د مهارتونو او نويو ټکنالوژيو د تر لاسه کولو تسهيل.
- د ښاري فضا د پلانونو په لړلو سره د ښاري سيمو د اقتصادي پرمختګ د ستراتيژيک پلان چمتو کول.
- پـه اقتصـادي زېربنـاوو لکـه د لېږدولـو لـه پـاره د منطقـوي ټرانسـپورټ د شـبکو، لوژسـتيکي مرکزونـو، د سـاتنې او توزيـع د تاسيسـاتو، سـړو خونـو او يخچالونـو پـه برخـه کـې د پانګـې اچونـې زياتـول.
- د زېربنـاوو او خدمتونـو د سـمون پـه موخـه پـه ټولـو حکومتـي برخـو کـې د عوايـدو زياتـوالي لـه پـاره د سـوداګريو د ثبـت او ماليـاتـو را غونډولـو ملاتړ.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړيتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسيزه کی د افغانستان د ښاری لومړيتوب برخه وی دی لومړيتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتيژيکو ولسواليو ښاروالی تحليل او تجزيه کيژی چی مهم معلومات او دقيق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پاليسي او ملی پروګرامونو په ترتيبولو کی به وړانديزونه وشی .

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه يوازی د غير تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د ميشته کيدنی پروګرام په ليکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثير، انتقال او يا د بيا پيدا کيدو سيستم کی وساتل شی. کوم تعريفات، څيړنه، نتيجه ګيری او سفارشونه په دی نشريه کی د ملګرو ملتونود ميشته کيدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هيوادونو او يا د افغانستان، استرليا او انګلستان حکومتونو د نظرياتو ښکارندونی نه دي.